# اميرالمومنين حضرت امام على عليه السلام

لنډه پيژنګلو:

Download from:aghalibrary.cm

نوم: على
لقب: اميرالمومنين
د پلارنوم: ابو طالب
د اولادي شمير: دولس زامن، شپاړس لونړي
د مور نوم: فاطمه بنت اسد
د زوکړي نيټه: د رجب د مياشتي13(هاتى د كال23)
د امامت دوره: ديرش کاله
عمر: دري شپيته(63) کاله
د شهادت نيټه: د روژي د مياشتي يوويشتمه (21)
قاتل: ابن ملجم
زيارت: نجف اشرف(عراق)
د اولادي شمير: دولس زامن، شپاړس لونړي

## زوكړه او وړوکوالى

ابن قضب وايي د عبدالمطلب له ځوي او پيغمبر (ص) له ترۀ عباس او ځينو نورو کسانو سره د خداي د کور مخي ته ناست وو. د اسد لور فاطمه د خداي د کور په وړاندې ودريده او وې ويل" اى پاکه خدايه! په تا، ستا په پيغمبرانو او د هغوي په کتابونو چي مي پرې ايمان راوړى دى، د خپل نيکۀ حضرت ابراهيم( عليه السلام) د وينا تصديق کوم هماغه چي دا کور يي ستا په حکم جوړ کړو. تا ته په هغه او په دې ماشوم چه زما په خيټه کښې دى قسم درکوم چه د دۀ زيږيدا ماته اسانه کړې.

په دې وخت مو يو داسې منظر وليد چه سترګي مو غړيدلې او حق حيراني پاتي شوې. د خداي د کور ديوال وچاودۀ، هغه ګرانه بي بي د خداي کور ته ورننوته او ديوال بيا روغ شو. په بيړې سره پاځيدو چې د خداي د کور ور خلاص کړو خو خلاص مو نۀ کړى شو. او پوه شو چې په دې کښې د خداي حکمت دى.

ځلور ورځې پس هغه قدرمنه بي بي د خداي له كوره راووته، يو ماشوم يې په غيږ كښې ؤ چې نازيده پرې او ويل يې چې يو غيبي پيغام يې اوريدلى دى. چې په دې نوزيږى"على" نوم كيږده. دا پيښه د هاتى د كال(عام الفيل) په ديرشمه (له هجرته23 كاله مخكې) د رجب په ديارلسمه نيټه د جمعې په ورځ وشوه.

## امام على (ع) خپل وړوكوالى داسې انځوروي.

په وړوكوالي كښې به پيغمبر(ص) زۀ په خپل غيږ كښې نيولم، له سينې سره به يې جوختولم، ډوډۍ به يې ژوله او ماته به يې خلې كې راكوله او د خپل بدن د معرفت خوشبو به يې په ما بويولو. د دوي په بركت ما چرته دروغ ونۀ ويل او غلط كار مې ونۀ كړو. خداي پاک له خپل پيغمبر(ص) سره د تي رودلو له وخته وروسته لوي لوي فريښتې ملګرې كړې چې شپه او ورځ له نړۍ سره د نيكيو په لارو كې د هغوي ملګرې وې. ما به هم د پيغمبر(ص) په پل، پل كيښود او د هغه به مې داسې پيروى كوله لكه چې يو ماشوم بچى د خپلې مور كوي. د اسلام قدرمن پيغمبر(ص) ته له بعثته وروسته تر دريو كلونو پورې د اسلام د ځرګندولو حكم نۀ ؤ شوى. په دغه موده كښې يوازې يو څو كسانو په هغوي ايمان راوړو چې په سرو كښې لومړى كس حضرت امام على(ع) ؤ . چې د پيغمبر(ص) د ملګرتيا اعلان يې وكړ.

كله چې دا ايت "وَ اَنْذِرْ عَشِيرَتَکَ الاَقرَبِين" (خپل نزدې خپلوان وويروه) نازل شو نو حضرت امام على(ع) د پيغمبر(ص) په حكم سره ځلويښتو خپلوانو ته بلنه وركړه او ډوډۍ ته يې راوغوښتل چې ابولهب، عباس او حمزه هم پكښې شامل وو، هغه ډوډۍ چې د يو كس لپاره هم كافي نۀ وه، ځلويښتو تنو وخوړه. ټول پرې ماړۀ شول او بيا هم پاتې شوه. او كله چې پيغمبر(ص) وغوښتل چې هغوي ته د اسلام بلنه وركړي نو ابولهب وويل" محمد په تاسو جادو كړى دى" او ددۀ دې خبرې په نتيجه كښې موجود كسان د حضرت محمد (ص) له خواۀ شا خوارۀ شول.

پيغمبر(ص) سبا بيا هماغه شان ډوډۍ وركړه او له ډوډۍ وروسته يې وفرمايل: "اى د عبدالمطلب بچيو! په دنيا كښې داسې څوک نشته چې تر هغه څۀ چې ما تاسو ته راوړي دي، ښۀ څيز درته راوړي. ما تاسو ته ددې او د هغه جهان ښيګړه راوړې ده. خداي پاک ماته حكم را كړى دى چې تاسو هغه ته راوبلم نو په تاسو كښې به له ما سره څوک مرسته وكړي چې زما ورور، وصي او خليفه شي؟"

پيغمبر(ص) خپله خبره درې ځلې تكرار كړه او هر ځل يوازې حضرت على(ع) پاڅيد او خپل چمتوالى يې اعلان كړو.

بيا پيغمبر(ص) وفرمايل "دې زما رورو، وصي او خليفه دى، ددۀ خبره اورئ او منئ ئې"

## امام علی (ع) د هجرت په لومړۍ شپه

کله چې خاتم الانبیاء حضرت محمد(ص) اسلام ښکاره کړو قریشو ته خطرناک ښکاره شو. د قریشو مشران په "دارالندوة" کښې راغونډ او د پیغمبر(ص) په شهیدولو صلاح شول او وې ټاکل چې له هرې قبیلې یو یو کس یوځائې شي د شپې د پیغمبر(ص) په کور یرغل وکړي او هغه مبارک شهید کړي.

خداي پاک خپل پیغمبر(ص) خبر کړ او حکم یې ورکړو چې په هغه شپه هجرت وکړي. پیغمبر(ص) حضرت امام علی(ع) ته د خداي حکم واوراولو او حکم یې ورته ورکړو چې د هجرت په شپه د هغوي په کټ کښې څملي، خو داسې چې څوک پوه نه شي چې څوک ملاست دی.

حضرت امام علی(ع) په خپلې سرښیندنې سره د پیغمبر(ص) د ژوند او سر حفاظت وکړو او دا لویه خطره یې په خپل ځان واخسته. دا کار دومره په زړه پورې او لوې ؤ چې خداي پاک په دې حقله دا ایت نازل کړو "وَمِنَ النَاسِ مَنْ یَشْرِیْ نَفْسَهُ ابْتِغَاءَ مَرْضَاةِ اللهِ وَ اللهُ رَؤُفٌ بِالعِبادِ"[1]

"په خلقو کښې ځینې داسې کسان شته چې د خداي په لار کښې خپل سر او ژوند خرڅوي او خداي په خپلو بندګانو مهربان دی"

شپه راغله او د تیارې لمن خوره شوه. په قتل ګمارل شویو کسانو د پیغمبر(ص) کور کلابند کړو. د خداي رسول(ص) د سوره یسین ځینې ایتونه له ځان سره وویل، له کوره راووت او له مکې بهر د ثور د غار په خوا روان شو.

قاتلانو په وتلو تورو سره د پیغمبر(ص) په بسترې یرغل وکړو. حضرت امام علی(ع) راپاڅید او په بسترې کښې کښیناست قاتلانو په حیرانتیا سره وپوښتل "محمد چرته لاړ؟"

حضرت امام علی(ع) ورته وفرمایل "ولې تاسو زۀ په هغه څوکیدار کړی ؤم چې له ما یې پوښتنه کوئ؟"

کفارو په حضور(ص) پسې ډیر تکل وکړو خو نا امید شول.

**امام علی(ع) د پیغمبر(ص) امین:** ګران رسول حضرت محمد(ص) د قریشو امانت ساتوونکې ؤ ټولو به ورسره خپل امانتونه کیښودل خو کله چې هجرت ته مجبور شو نو په خپلې کورینۍ کښې ورته تر حضرت علی (ع) زیات امانت ساتونکی او امین څوک ښکاره نۀ شو نو

---

1 . سوره بقره ایة 207.

هغه يې خپل ځاي ناستی وټاکۀ چې د خلقو امانتونه هغوي ته ورسوي، قرضونه يې ورکړي او بيا د هغوي ښځې او ماشومان مدينې ته راولي.

حضرت امام علی(ع) د دغو ټولو کارونو تر سره کولو وروسته له خپل مور بي بي فاطمې، د پيغمبر(ص) له لور بي بي فاطمې، د زبير له لور چې د هغې نوم هم بي بي فاطمه ؤ او له نورو ښځو او ماشومانو سره د مدينې په لور راوان شو. په لاره کښې يې د مکې اتو تنو کفارو لاره ونيوله خو حضرت امام علی(ع) د ټولو سره مقابله وکړه هغوي يې پسې واخستل او چې کله مدينې ته ورسيد نو ګران رسول (ص) خپل کور ته بوتللو.

## امام علی(ع) او د خداي په لار کښې جهاد

اسلام د سولې پخلاينې دين دی او له سړي وژنې او مرګ ژوبلې سره موافق نۀ دی او د هغه لپاره چې په لوي لاس او قصدا او بي دليله کوم ايمانداره کس ووژني د هميشني عذاب سزا مقرره کړې ده. خو سره د دې، اسلام د خپل هر اړخيزوالي او بشپړتيا له امله يو نړيوال دين دی نو پکار ده چې ټول يې ومني.

ځرګنده ده چې هماغه کسان چې د اسلام له سپيځلو اصولو او سمو طريقو ځخه يې ګټو ته خطره وه، له اسلام سره مقابلې ته پاځيدل او خداي پاک همدغو ظالمانو، ښکيلاک ګرو او زبيښاک ګرو سره د مقابلې لپاره د جهاد حکم ورکړو. چې له هغو کسانو سره چې له اسلام سره دښمني لري او اسلام له منځه وړل غواړي مقابله وشي.

همدا راز عقل هم واي چې کله درباندې تيری زياتی وشي نو پکار ده چې د ځان دفاع وکړې او دا هم د جهاد يوه ځانګه ده چې عقل، فطرت او انصاف پرې حکم کوي.

د خداي د رسول(ص) اکثره جنګونه همداسې وو. او حضرت امام علی(ع) په دغو اکثرو جنګونو کښې شريک ؤ او له خدايه پرته له بل چا نۀ ويريدۀ. هغه به په جنګونو کښې بيرغوال، مخکښ، نۀ ستړی کيدونکی، بې ساری او بې مثاله ؤ.

دزمري په شان به يې حمله کوله، د تندر غونډې به په دښمن ورپريوتۀ د دښمن لښکر به يې داسې له منځه وړۀ لکه طوفان چې خاورې اوخشاک له ځان سره وړي.په شا باندې يې زغره نه لرله ځکه چې هيڅکله به يې دښمن ته نۀ شا کوله او له جنګه به نۀ تښتيدۀ. د تيرې تورې ګذار يې د دښمن لپاره د مرګ غږ ؤ او دويم ګوزار ته يې حاجت نه درلود. راځئ چې په تاريخ کښې په ځينو جنګونو کښې د هغوي رول ته يوه ځغلنده کتنه وکړو.

# د خندق په جنګ کښې

د اسلام دښمنان له بیلا بیلو ګوندونو ډلو او قامونو را غونډ شول ټولو یو بل ته لاسونه ورکړل او فیصله یې وکړه چې په مدینې حمله وکړي او اسلام له منځه یوسي.

ګران رسول (صلی الله علیه و اله وسلم) د سلمان فارسی رضی الله عنه په وړاندیز حکم ورکړو چې له مدینې ګیر چاپیره خندق (ژوره کنده) وکنئ.

دواړه لښکري یو بل ته مخامخ ودریدې. د عربو یو مشهور او نامتو جنګیالي عمرو بن عبدود چې اتیا کالن ؤ او ډیر لوي پهلوان ؤ او په یوازې سر به له دیرشو څلویښتو کسانو سره جنګیدۀ. د کافرانو له لښکره راووت، غوریدۀ او ویل یې چې په تاسو کښې داسې نر شته چې زما مقابلې ته راووځي ؟

حضرت امام علی(ع) راوړاندې شو.

عمرو ورته وویل "ستون شه، نه غواړم چې ودې وژنم" حضرت امام علی(ع) ورته وویل تا له خپل خداي سره ژمنه کړې وه چې په قریشو کښې درنه څوک دوه حاجتونه وغواړي نو یو حاجت به یې منې.

عمرو: "هؤ! نو وایه حاجت دې څۀ دی؟" علي(ع): "لومړی دا چې اسلام ومنه، خداي ته راوګرځه او په پیغمبر حضرت محمد (ص) ایمان راوړه"

عمرو: "دغو ته حاجت نۀ لرم"

علي علیه السلام: " ښه نو بیا جنګ ته تیار شه"

عمرو: "ګوره ستون شه، پلار دې زما د پلار دوست ؤ، ځکه نۀ غواړم چې ستا په وینو لاس رنګ کړم.

علي علیه السلام: "خو ما له خداي سره ژمنه کړې، ترڅو چې تۀ خداي او حق ونۀ منې تا ووژنم"

عمر له اسه راکوز شو او په حضرت امام علی(ع) یې د تورې ګوزار وکړ. حضرت امام علی(ع) د هغۀ ګوزار په خپل ډال ستون کړ او بیا یې په یو ګوزار سره هغه له کاره وویست او هله یې ووژلو.

نورو چې کله دا حالت ولیدۀ نو وتښتیدل. حضرت امام علی(ع) بریالی راستون شو، پیغمبر(ص) په شا وټپولو، شاباسی یې ورکړو او وې فرمایل: "ستا نننی ګوزار د ثقلینو یعني د ټولو مخلوقاتو له عبادت نه غوره دی ځکه چې ددې له امله د کافرانو حوصلې او روحیې سستې شوې، سپک شول او د مسلمانانو لپاره یې سر لوړي او عزت ډالۍ کړ.

# د خیبر جنګ

پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه و اله وسلم له خپلو اصحابانو سره د یهودیانو د مرکز خیبر په لور راوان شو په دې جنګ کښې د حضرت علی علیه السلام سترګې خوږ وې او جنګ ته نهٔ شو تللی.

د خداي رسول(ص) ابوبکر راوغوښت او د جنګ بیرغ (جنډه) یې هغهٔ ته ورکړ. ابوبکر له ځینو سپایانو سره جنګ ته لاړ خو ناکامه شو. صبا یې بیا عمر ته د جنګ بیرغ ورکړو خو هغه هم ناکامه راستون شو.

پیغمبر(ص) وفرمایل "صبا به زهٔ بیرغ داسي کس ته ورکوم چې له خداي او رسول(ص) سره مینه لري.او خداي او د هغه رسول هم له هغهٔ سره مینه لري او هغه به بریالی او سرلوړی کیږي. بیا یې وفرمایل حضرت علی علیه السلام راوالئ ورته وویل شول چې د هغه سترګې ډیرې سختې خوږ دی. وې فرمایل: خیر دی او راؤې غوښتو. حضرت امام علی علیه السلام راغی د خداي رسول(ص) ترې وپوښتل چې څهٔ چل دی؟ علی علیه السلام وویل سترګې او سر مې خوږیږي. د خداي رسول(ص) ورته دعا وکړه د هغه په سترګو کښی یې د خپلې مبارکې خلې لعاب واچول او په سر یې ورته لاس راکاږلو، د حضرت علی علیه السلام د سترګو او سر دردختم شو، بیا یې سپین بیرغ ورکړو. حضرت علی علیه السلام بیرغ اوچت کړو او چې کله راوانیدهٔ نو پیغمبر(ص) ورته وفرمایل " خداي پاک درسره جبراییل ملګری کړی او انشاءالله کامیابي ستا ده، خداي پاک د دښمنانو په زړونو ویره اچولې ده او هغوي په خپل کتاب کښې لوستي دي چې هغه کس چې دوي ته به ماتې ورکوي نوم یې (ایلیا) علی دی. نو کله چې هغوي ته ورسیدې ورته ووایه چې زما نوم علی دی. انشاءالله چې خوار او ذلیل به شي.

علي علیه السلام میدان ته ور ودانګل. تر ټولو مخکښې د یهودیانو له یو لوئې پهلوان مرحب سره مخامخ شو او هغه یې د تورې په یو ګوزار له ورخه تیر کړو.

یهودیانو چې کله د خپل مشر وژله ولیده نو کلا ته دننه وتښتیدل او ور یې ځان پسې پورې کړو حضرت علی علیه السلام د ورهٔ خوا ته ورغی او هغه ور چې شلو کسانو به بنداوؤ او خلاصوؤ، په یوازې سر یې له خپل ځایه راوکندلو او په هغه خندق یې کیښود چې یهودیانو له کلا ګیر چاپیر کندی ؤ. مسلمانان ددغه ور په ذریعه له خندقه راواوړیدل، کلا یې ونیوله او سر لوړي راستانهٔ شول.

# د حضرت امام علی(ع) علم او پوهه

ابن عباس د پیغمبر(ص) له مبارکې خلې وائې " علی زما په امت کښې تر ټولو پوهه او په فیصلې او قضاوت کښې تر ټولو لوړ دی."او دا هم د پیغمبر (ص) د خلې خبره ده چې:"اَنَا مَدِیْنَۃُ العِلمِ وَ عَلیٌ بَابُهَا فَمَن اَرَادَ العِلمَ فَلْیَقْتبسه مِن عَلی"

" زه د علم ښار یم او علی یې ور دی څوک چې علم زده کول غواړي له علی یې زده کړي"

ابن مسعود هم وایي: " ګران رسول (ص) علی علیه السلام راوغوښت او له ځان سره یې کیښنولو. کله چې علی(ع) له پیغمبر(ص) راستون شو نو ومې پوښتل د خداي رسول(ص) درته څۀ ویل؟ وې فرمایل: "پیغمبر(ص) ما ته د علم زر ورونه پرانستل چې له هر وره زر نور ورونه پرانستل کیږي.

یوه ورځ حضرت علی علیه السلام په منبر باندې وویل "یَامَعْشَرَالنَاسِ سَلونِی سَلونِی قَبْلَ اَن تَفقدُونِی"

ای خلقو! له ما چه څۀ پوښتل غواړئ، وې پوښتئ، مخکښې تر دې چه زه مو له لاسه اوځم ځکه چه زه د تیرو او راتلونکو کسانو علم لرم. په خداي قسم که د قضاوت او فیصلې ټغر خور شي، یهودیانو ته به د هغوی د خپلو کتابونو، د انجیل منوونکو ته به له انجیله، د زبور منوونکو ته به له زبوره او قران منوونکو ته به له قرانه فیصله او قضاوت وکړم. په خداي قسم زه تر ټاسو ټولو په قران او د هغۀ په تاویل پوه یم .

بیا یې په دویم ځل وویل "سلونی قبل ان تفقدونی"

تر دې مخکښې چې زۀ مو له منځه لاړ شم له ما پوښتنه وکړئ. د قران د هر ایت پوښتنه کوئ، د هغه د نزول په باره کښې، د شان نزول او په دې حقله چې د چا په باره کښې نازل شوی دی او هم د راز د ناسخ منسوخ، محکم او متشابه او مکي والي او مدني والي، غرض دا چې هر قسم پوښتنه که لرئ، کولی یې شئ زه به یې ځواب درکړم.[2]

د خداي ګران رسول(ص) ته د حضرت علی علیه السلام فضایلو ته په پام سره حکم وشو چې خلقو ته د حضرت علی علیه السلام ولایت او جانشیني څرګنده کړي او پیغمبر(ص) په بیلا بیلو ځایونو او موقعو کښې دا کار کړی دی منجمله د غدیر په ورځ.

---

2 . ارشاد مفید ص 16 ، 15، طبقات ابن سعد جلد 2 ص 101 جلد 4 ص 270 استعاب جلد 1 ص 463

رسول(ص)د هجرت په لسم کال مکې ته د حج د فریضې لپاره لاړ. په دې سفر کښې له پیغمبر(ص) سره د ملګرو شمېر یو لک شل زره تنه ؤ. له حجه د راستنیدو په وخت هم دومره کسان د پیغمبر(ص) ملګری وؤ. د ذې الحجې په اتلسمه نیټه د غرمې په وخت دوی په "جحفه" نومې دشتې کښې غدیر خم ته ورسیدل. چې کله د لمانځۀ وخت راورسیدو او بانګ وویل شو نو خلق له خپلو سورلو کوز شول، ټول راغونډ شول او په جمع یې نمونځ وکړو. بیا د اوښانو له کجاوو منبر جوړ کړی شو، د خدای رسول(ص) په منبر اوخت او د خدای پاک تر ثنا وروسته یې وفرمایل "ما ته او تا سو ته د خدای له خوا دنده او مسؤلیت راکړل شوی دی، ایا داسې نۀ ده.

خلق: ګواهي ورکوؤ چې مونږ ته دې تبلیغ وکړ او په دې لاره کښې دې ډیرې سختۍ وزغملې، خدای درته د ددې ښه بدله درکړه.

رسول مبارک (ص): ایا د خدای پاک په یووالي او د هغۀ د بنده محمد په پیغمبرۍ او د دوزخ او جنت مرګ او په بیا راپاڅیدو ګواهي نه ورکوئ؟

خلق: ګواهي ورکوؤ.

رسول مبارک(ص): خدایه! تۀ ګواه اوسه. بیا د خدای رسول (ص) خلقو ته مخ کړو او وې فرمایل :ای خلقو! زه او تاسو به د کوثر په غاړه له یو بل سره کتنه کوؤ. نو اوښیار او خبر دار اوسئ. زه تاسو ته دوه ګران بیعه ملغلرې پریږدم.

خلق:ای د خدای رسوله (ص) هغه دوه ملغلرې کومې دی؟

رسول مبارک(ص): د خدای تعالی کتاب او د زما اهلبیت(ع) خدای ما ته فرمایلي دي چې دا واړه به تر هغه وخته له یو بله نۀ جدا کیږې چې د کوثر په غاړه ما ته راورسي. له دغو مۀ مخکښې کیږئ او مۀ تېریږئ ګني هلاک به شئ.بیا یې د امیرالمومنین حضرت علی علیه السلام لاس هسک کړو چې ټول یې ووینې او وې پیژني. نو په همدې حالت سره یې وفرمایل " اَیُهَاالنَاسُ! مَن اَولَی النَاسَ بِاالمُومِنِینَ مِنْ اَنفُسِهِمْ" "ای خلقو! هغه څوک دي چې په مومنانو باندې تر هغوي زیات حق لري او د مومنانو ولایت او مشري دهغوي په لاس کښې ده؟

خلق: خدای او د هغه رسول (ص).

د خدای رسول (ص):خدای پاک زما مولا دي او زۀ په مومنانو مولا یم،زۀ په مومنانو باندې تر هغوي زیات حق لرم نو "مَنْ كُنْتُ مَولاهُ فَهَذَا عَلیٌ مَولاهُ" د چا چې زه مولا او سرپرست یم دا "علی" د هغوي مولا او مشر دي.                    اي خدایه! د علی له دوستانو سره مینه ولره او ددۀ له دښمنانو سره دښمني. له هغه چا سره چې له علی سره مرسته وکړي، مدد وکړه او څوک چې ددۀ مقابلې ته پاڅې او تیري پرې وکړي هغوي ته سزا ورکړه. نو ای خلقو! کوم کسان چې موجود دي. دوي دې دا خبره غایبانو او ناموجود کسانو ته ورسوي"

خلق له خوارۀ شوي نۀ وو چې دا ايت نازل شو "اَلیَومَ اَکمَلتُ لَکُمْ دِینَکُم وَ اَتمَمتُ عَلَیکُمْ نِعْمَتی وَ رَضِیتُ لَکمُ الاسْلامَ دِینا" "نن مې ستاسو دين مکمل کړ او په تاسو مې نعمتونه تمام کړل او تاسو ته د اسلام په دين راضي شوم"[3]

## په حقونو کښې برابر والی او انصاف

حضرت علی علیه السلام چې کله د اسلامي حکومت مشر شو نو منبر ته وخوت او د خداي پاک له حمد او ثنا وروسته يې وفرمايل: "په خداي قسم که په مدينه کښې زما د کجورې يوه ونه هم وی، له بيت المال به څۀ وانۀ خلم نو اوس لږ سوچ وکړئ چې کله زه د ځان لپاره له بيت الماله څۀ نۀ اخلم نو ايا تاسو ته به يې په ناجايزه درکړم؟" د علی ورور عقيل پاڅيد او وې ويل تۀ ما ته او د مدينې يو تور پوستکی (حبش) ته په يوه سترګه ګورې او ما له هغه سره برابروې؟

حضرت علی علیه السلام ورته وفرمايل " ای وروره کښينه! تۀ په دغه تور پوستکی هيڅ لوړ والي نۀ لرې او لوړوالی او فضيلت يوازې په پرهيزګارۍ او ايمان کښې دی.[4]

د امام ځنو ملګرو هغوي ته وويل ای اميرالمومنينه که له بيت الماله دې اول لويو او غټو خلقو ته څۀ ورکړې وی چې حکومت د ټينګ شوی وی نو بيا دې په عدالت سره په نورو حکومت کړی وی نو دا به ښه وه؟

امام وفرمايل "افسوس چې تاسو له ما غواړئ چې د خپل بنيادونه په ظلم او زياتي او مسلمانانو سره په بې عدالتۍ او بې انصافۍ ودروم، نه، په خداي قسم زه به هيڅکله داسې ونۀ کړم په خداي قسم که د مسلمانانو مالونه زما خپل هم وی بيا به می به هم په هغوي کښې برابري او عدالت کوۀ پاتې لا راشه دا چې دا د دوئ خپل مال دی.[5]

د حضرت علی بن ابيطالب علیه السلام له شهادته وروسته يوه ورځ د همدان د قبيلې د عمار لور بي بي سوده معاويه ته ورغله، معاويه ته د سودې هغه سختۍ او فعاليتونه را ياد شول چې د صفين په جنګ کښې يې د حضرت امام علی علیه السلام او د دوي د سپايانو په خدمت کښې تيرې کړې وې. معاويه ورته دا سختۍ وريادې کړې او هغه يې وټوکله. بيا يې ترې وپوښتل چې

---

3 . الغدير جلد 1 صحفه 9 تا 11

4 . وسائل ج 11 ص 9

5 . وسائل جلد 11ص 80

دلته د څۀ لپاره راغلې ئې؟ هغې ورته وويل: "اى معاويه! خداي به درنه زمونږ د واجبو او ضروري حقونو د تروړلو غصبولو پوښتنه کوي، تا تل په مونږ داسې ګورنران ګمارلي دي چې په مونږ ظلمونه کوي، زمونږ مالونه او حقونه چخښې کوي او سړي مو وژني.اوس دې دا "بسر بن ارطاة" په مونږ ګمارلى دى چې زمونږ سړي وژني او مالونه مو چور کوي. که ستا له حکومته مو پيروي نۀ کولئ نو اوس به ښۀ په عزت کښې وو ، که دى دې لرې کړ خو ښه په ښه، ګني مونږ پخپله راپاڅو."

معاويه وقهريدۀ او وې ويل: "ما له خپلې قبيلې ويروې، تا به په ډير بد حالت کښې هماغه بسر ته ورولیږم چې څۀ يې د زړۀ خوښه وي هغه درسره وکړي"

سوده يو څو شيبې غلې شوه او په ذهن کښې يې د تيرو وختونو عدالت او انصاف را ياد کړ بيا يې دا شعر ووئې:

"د خداي سلام د وي په هغه روح ، چې د هغوي په تللو د عدالت او انصاف ټغر هم ټول شو.

هغه په حق او صداقت ژمن ؤ او حق به يې له هيڅه سره نه بدلولو ، حق او ايمان په هغه کښې يو ځائې شوي وؤ"

معاويه تپوس وکړ چې دا د چا خبره کوې؟

بي بي سوده وويل د حضرت على بن ابيطالب عليه السلام اوس مې هم هغه ياد دي چې هغۀ ته ورغلم چې د زکات د راغونډونکي افسر شکايت وکړم، کله چې امام ته ورسيدم نو هغوي مانځۀ ته نيت تړلو خو چې زه يې وليدم، مونځ يې پريښود او په مسکا سره يې له ما وپوښتل: " له ما سره دې څه کار ؤ؟" ومې ويل "هؤ" او بيا مې ورته خپل شکايت ورسولو.

امام چې مانځۀ لپاره ودريدلى ؤ، په ژړه شو او خداي پاک ته مخاطب شو "اى خدايه! ګواه اوسه چې ما هيڅ کله حکم نه دى ورکړى چې دغه افسر په خلقو ظلم وکړي." بيا يې د څرمنې يوه ټوټه راوباسله او د خداي له نامې او د قران يو ايته وروسته يې وليکل "څنګه چې زما ليک در ورسي نو خپل ټغر دې ټول کړه چې په ځائې دې بل څوک در وليږم"

بيا يې ليک ماته راکړو خو په داسي حال کښې چې پرانستي ؤ او ټاپه يې پرې نه وۀ لګولې. ليک مې افسر ته ورکړ او هغه له خپل مقامه څنګ ته شو"

معاويه د دې قيصې تر اوريدو وروسته مجبورا حکم ورکړو چې څۀ غواړي، ورته وې ليکئ.

# امیر المومنین د نورو خلیفه ګانو په وخت

تر دې وروسته چې پیغمبر(ص) خپلې مهربانه سترګې له دنیا پناه کړې او دهغوي ځلاند نمر له اسمانه لاړ، ځینې کسان په سقیفه بني ساعده کښې راغونډ شول او ابوبکر ( ) يې خلیفه کړ. ابوبکر ( ) د هجرت په لسم کال خلیفه شو او د هجری په **13**کال د **63**کالو په عمر کښې له دنیا لاړ. د خلافت موده يې **2**کاله **3** میاشتې او لس ورځې وه. تر دۀ وروسته عمر بن خطاب خلیفه شو د دوي د خلافت دوره لس کاله شپږ میاشتې او څلور ورځې وۀ. عمر تر خپل ځانه وروسته یوه شورا جوړه کړه چې په نتیجه کښې يې عثمان خلیفه شو او هغۀ ده هجرت په **24**کال د خلافت واګې په لاس کښې واخستې او د هجرت په **35** کال د ځنو مسلمانانو په لاس ووژل شو.د دوي خلافت هم قابو دولس کاله ؤ.

تر دې وروسته خلق امام علی ته ورغلل او هغه يې مجبور کړ چې خلیفه شي. ځنو نورو کسانو هم خلافت ته امید لرلو خو ټول مسلمانان په علی علیه السلام صلاح شول او نور کسان چې د خلافت طمع دار وؤ.، د حضرت علی علیه السلام دښمنی ته را پاڅیدل چې له دې امله او ځنو نورو وجوهاتو له وجې د مسلمانانو تر مینځ څو جنګونه وشول او دغو کسانو چې د حضرت امام علی علیه السلام دښمنان وؤ، د ډیرو مسلمانانو وینه يې وبهیوله. د دغو جنګونو په وجه له ځنو کسانو حق ګډوډ شو او بې لاره شول او د خوارجو په نامه یوه ډله جوړه شوه چې اسلام به يې د خپل زړه او خو ښې سره سم تفسیرولو او حضرت امام علی علیه السلام ته يې کافر وې. د حضرت علی وروستی جنګ له همدغو خوارجو سره ؤ چې د "نهروان" په نامه مشهور دی. په دغه جنګ کښې خوارجو ماتې وخوړه.

حضرت امام علی علیه السلام چې د علم دروازه او د اسلام یوه لویه او مضبوطه ستنه وه چې سینه يې له الهي علمه ډکه وه د نورو خلیفه ګانو په وخت هم چې کله د اسلام لپاره د دوي ضرورت پیښ شوی دی او دوي محسوسه کړې ده چې اوس د حق لپاره خبره کول یا بل څه اقدام ضروری دی، کړی يې دی. د اسلام د هدایت او هر ډول لارښوونې په وخت يې له هیڅ قربانۍ سر نه دی غړولی، تر دې چې دویم خلیفه به تل ویل:

" لَو لا عَلیٌ لَهَلَکَ عُمَر" (که علی نۀ وی نو عمر به هلاک شوی ؤ)

په دیني یا غیر دیني چارو او سیاسي ستونزو کښې د امام لارښوونې هغوي دومره حیرانه کړی وو چې بې اختیاره به يې د حضرت امام علی علیه السلام د بزرګوارۍ او علم اعتراف کوؤ. زه دلته ځنو مواردو ته اشاره کوم.

# د ابوبکر په زمانه کښې

ځنې یهودي مفکران او عالمان ابوبکر   ته راغلل او له هغۀ یې وپوښتل " که تۀ د امت د پیغمبر(ص) جانشین یې نو مونږ په تورات کښې لوستې دي چې د پیغمبر(ص) ځاي ناستی به تر ټولو عالم او اوښیار سړی وي نو مونږ ته ووایه چې خداي پاک په زمکه کښې دی او که په اسمان کښې؟

ابوبکر   ځواب ورکړو هغه په اسمان کښې په عرش باندې دی. هغوي ورته وویل نو ددي مطلب دا دی چې په زمکه کښې نشته یعني خداي پاک ځینو ځایونو کښې شته او ځینو ځایونو کښې نشته.

ابوبکر   وویل دا د کفر خبره ده، له دې ځایه وځئ ګني حکم به  ورکړم چې سرونه مو پرې کړي. هغوي راستانۀ شول او په اسلام پورې یې خندا پیل کړه. حضرت امام علی علیه السلام له هغوي څخه یو تن راوغوښت او ورته یې وفرمایل: "زه خبر یم چې تاسو څه وپوښتل او څۀ ځواب مو واورید ، خو پوه شئ چې اسلام وایي خداي پاک پخپله د مکان او ځائې پیدا کوونکی دي نو ځائې او مکان نۀ لري او تر دي لوړ دی چې په کوم ځائې او مکان کښې وي هغه په هر ځائې کښې دی بې له دې چې له څۀ څیز سره تماس ولري او جخت وي ورسره، او دهغه علم په څۀ خپور دی" یهودي چې دا خبره واوریده نو مسلمان شو.[6]

قدامه بن مظعون نومې سړي شراب وڅښل عمر وغوښتل چې په هغه باندي شرعي حد جاري کړي یعني اتیا متروکې یې ووهي. قدامه وویل په ما باندې د حد جاري کول صحیح نۀ دي.ځکه چې خداي پاک فرمائې: "هغه کسان چې ایمان یې راوړی او نیک کارونه یې کړي دي په هغه څۀ کښې چې خوري یې تر هغه وخته پورې چې متقیان وي او نیک عملونه کوي هیڅ باک نشته"[7]

عمر  چې دا خبره واوریده نو په هغۀ یې حد جاري نه کړو حضرت امام علی(ع) ته خبر ورسید هغه عمر ته راغی او پوښتنه یې ترې وکړه چې ولې دې خداي قانون اجراء نۀ کړو، عمر ورته هماغه ایت ولوست، حضرت امام علی(ع) وفرمایل قدامه په دې ایت کښې نه شاملیږي ځکه هغه کسان چې په خداي یې ایمان راوړی او نیک کارونه کوي د خداي حرام کړي څیزونه په ځان نۀ حلالوي، قدامه راوغوړه او ورته ووایه چې توبه وباسي که توبه یې وکړه نو حد پرې جاري کړه او که وې نۀ کړه نو بیا دې ووژل شي ځکه چې د شرابو د څښلو د حرام والي په انکار سره له

---

6 . احتجاج طبري چاپ جدید ج **1** ص **312**

7 . سوره مائده ایة 93.

اسلامه وتلی دی. قدامه راوغوښتل شو توبه یې وکړه او له ګناه یې لاس واخست. عمر ته پته نۀ وه چې څو کوړې یې ووهي. حضرت امام علی(ع) ورته وویل اتیا کوړې.

## د عثمان په وخت

علامه مجلسي له کشافه، ثعلبي او اربعین خطیبه نقلوي چې د عثمان عنه په زمانه کښې یوې ښځې تر وادۀ وروسته د شپږو میاشتو بچی وزیږوۀ. عثمان حکم ورکړو چې هغه د زنا په وجه سنګسار کړي ځکه چې دا ماشوم د هغې له خپل خاونده نۀ دی او یقینا دا ماشوم تر وادۀ مخکښې له چا بل کس څخه ګنډه شوی دی ځکه چې په شپږو میاشتو کښې خو ماشوم نه کیږي.

حضرت علی علیه السلام چې دا واوریدل نو عثمان ته یې وویل زه د خداي له کتابه له تا سره مجادله کوم. خداي پاک په یو ایت کښې د حمل (زیږون) او د شودو ورکولو موده دیرش میاشتې ټاکلې ده لکه چې فرمائي "وَ حَمْلُهُ وَ فِصَالُهُ ثَلاثُونَ شَهْراً"[8] یعنې د حمل (زیږون) او د شودو ورکولو موده په ګډه دیرش میاشتې ده. او په یو بل ځایٔ کښې فرمائي چې بچي ته د پۍ ورکولو موده دوه کاله ده لکه چې فرمائي: "وَالْوَالِدَاتُ يُرْضِعنَ اَوْلادَهُنَ حَولَينِ كامِلَينِ لِمَنْ ارادَ اَنْ يُتِمَ الرَضَاعَةَ"[9] یعنې میندو ته پکار دي چې خپلو بچو ته دوه کاله (**24**میاشتې) پوره پۍ ورکړي.

نو کله چې د پۍ ورکولو موده **24**میاشتې ده نو له هغه ایته چې وایي د "زیږون" او شودې ورکولو موده په ګډه دیرش میاشتې ده. څرګندیږي چې د حمل (زیږون) لږ تر لږه وخت شپږ میاشتې دی یعنې په شپږو میاشتو کښې هم بچی پیدا کیدی شي. "نو د قران له حکم سره سم دې ښځې هیڅ غلط او ناوړه کار نۀ دی کړی".

عثمان حکم ورکړو چې نوموړې ښځه دې پریښودل شي.

فقیهانو او عالمانو همدې ایت په دلیل د زیږون لږ تر لږه موده شپږ میاشتې ټاکلې ده. یعنې د شرعي حکم دا دی چې که یوې ښځې تر وادۀ شپږ میاشتې وروسته بچی وزیږوۀ نو هغه به یې جائز بچی وي خو که له شپږو میاشتو کم شو نو ناجائزه دی.

---

8 . سوره احقاف ایة15.

9 . سوره بقره ایة233.

# د حضرت امام علی علیه السلام شهادت

د هجرت په څلویښتم کال په مکې کښې ځنې خوارج راغونډ شو او غښته یې وکړه چې حضرت امام علی علیه السلام معاویه او عمر عاص په کوفې شام او مصر کښې په ټاکلو وختونو کښې ووژني. دوي د روژې د مبارکې میاشتې نولسمه شپه د وژلې وخت وټاکهٔ. د عبدالرحمن ځوې ملجم د حضرت امام علی علیه السلام په شهیدولو، د صریمي ځوي حجاج د معاویه په وژلو او د بکر تمیمي ځوي عمرو د عمرو عاص په وژلو وګمارل شول.

ابن ملجم په همدې خاطر کوفې ته راغی خو څوک یې له خپل سپیرهٔ او پلیت نیته خبر نهٔ کړل. تر دې چې یوه ورځ د یو خوارج په کور کښې له یوې ښائسته جینۍ "قطامه" سره مخامخ شو په هغې یې زړه وبائیله او ځان له یې وغوښته، قطامه ورته وویل زما مهر درې زره درهمه، یو مرئې او د حضرت امام علی علیه السلام شهیدول دي. قطامه چې پلار او ورونه یې د نهروان په جنګ کښې مړهٔ شوي وؤ، خیال کوؤ چې حضرت امام علی یې پلار او ورونه وژلي دی. خو حقیقت داسې نهٔ ؤ، غرض دا چې ابن ملجم قطامه ته وویل چې زهٔ هم د همدې کار لپاره کوفې ته راغلی ؤم. او اوس په خپله اراده لا کلک شوم.

بالاخره هغه سپیره شپه راورسیده، ابن ملجم له خپلو دوؤ ملګرو سره د روژې نولسمه شپه د کوفې په جماعت کښې تیره کړه. قابو دیرش او څو کاله مخکښې حضرت امام علی(ع) له ګران رسوله اوریدلي وؤ چې د روژې په میاشتې کښې به له دنیا ځي.

(نوره قیصه به د حضرت علی علیه السلام له خلې واورو)

"..... او چې کله پیغمبر(ص) د روژې د مبارکې میاشتې په باب هغه مشهوره خطبه ولوسته نو زهٔ پاڅیدم او تپوس مې ترې وکړ چې ای د خداې رسوله! په دې میاشتې کښې ډیر ارزښتناک عمل او کار کوم دی؟ وې فرمایل "له ګناهانو ځان ساتل، بیا پیغمبر(ص) سخت وژړل او ماته یې ووئې چې تهٔ به هم په دې میاشتې کښې شهیدیږې.

د امام علی علیه السلام له کړو او ویناوو هم دا څرګندیده چې دی په دې میاشتې کښې شهیدیږي، ځکه چې په همدې کال یې ویلی وو چې دا ځل به د حج په موسم کښې زهٔ ستاسو په منځ کښې نهٔ یم. همدا شان کله به چې خلقو له امامه پوښتنه کوله چې په دې میاشتې کښې ولې کمه ډوډۍ خوري نو امام به فرمایل: "غواړم چې په تشه خیټه د خداې کتنې ته ورشم"

د روژې نولسمه شپه يې ټوله روڼه کړه او فرمايل به يې "په خداې قسم دروغ نۀ وايم او ما ته دروغ نۀ دي ويل شوي، نن هماغه شپه ده."[10] او بالاخره د هغې شپې په سهار مهال کله چې د متقيانو مولا جمات ته راغی نو سهار د لمانځه په وخت د نړۍ تر ټولو د پليت سړي ابن ملجم خونړۍ او زهرژنه توره د حضرت امام علی عليه السلام په مبارک سر ولګيده او دا نمر د عبادت په مهراب کښې په وينو کښې رنګين شو او دوه ورځې پس د روژې د مبارکې مياشتې په يوويشتمه شپه د هجرت په څلويښتم کال دغه نمر پريوته.[11]

د هغوي مبارک بدن د عراق په نجف ښار کښې خاورو ته وسپارل شو چې اوس هم د مسلمانانو او د هغوي د ليوالو د زړونو کعبه ده؟ حضرت امام علی عليه السلام لکه څنګه چې ټول عمر د خداې پاک په ياد کښې تير کړو. ددغې پيښې په وخت هم د خداې پاک په ياد کښې ډوب ۆ ځکه چې کله ابن ملجم خونړۍ توره د هغه په مبارک تندي ولګيده نو لومړۍ جمله يې دا وه "فُزْتُ وَ رَبِ الکَعبه" د کعبې په رب قسم چې کامياب او بريالی شوم"

بيا يې امام هماغه شان په وينو لړلی کور ته بوتللو، امام علی په دغه موده خپلو بچو ته وفرمائيل چې زما قاتل په ما يوازې يو ګوزار کړی دی نو پکار ده چې يوازې يو ګوزار پرې وکړی شي او هغه سره دې ښۀ سلوک وشي.

امام دوه ورځې د شهادت په بسترې پروت ۆ او بيا هم هره شيبه د خلقو د نيکمرغۍ او ښيګړې په فکر کښې ۆ او سره له دې چې حضرت محمد صلی الله عليه و اله وسلم او پخپله حضرت امام علی عليه السلام تر دې مخکښې هم ډير ځله د امام حسن، امام حسين او ورپسې تر دولسو امامانو پورې د ټولو د امامت يادونه کړې وه خو بيا هم امام علی عليه السلام د خپل عمر په وروستو شيبو کښې د حجت د تمامولو لپاره خلقو ته د دوي د امامت خبره بيا وکړه.

## د امام علی(ع) وروستۍ خبرې

امام د ژوند په وروستيو شيبو کښې خپلو بچو، خپلوانو او ټولو مسلمانانو ته وصيت وکړ چې ".....تاسو تقوی او له خدايه ويرې ته رابولم، خپل کارونه او چارې منظمې او سرځنه ساتئ او تل د مسلمانانو تر مينځ د اصلاح او رغاونې په فکر کښې اوسئ، يتيمان مۀ هيروئ او د

---

10 . ارشاد مفيد ص 10.

11 . ارشاد مفيد ص 5 بحار ج 42، ص281.

ګاونډیانو د حقونو خیال ساتئ، قران د ځان لپاره یو عملی پروګرام وګرځوئ "اَللهَ اَللهَ فِی الصَلواةِ فَاِنَهَا عَمودُ دِینِکُم" د نمونځ ډیر خیال ساتئ او درنښت یې کوئ ځکه چې دا مو د دین ستنه ده. د خداي پاک په لار کښې په خپل سر، مال او ژبې سره جهاد کو ئ، له یو بل سره غړ مله اوسئ، ښو ته رابلل اؤ له بدو منعې کول مۀ پریږدئ ځکه چې که د خداي فرض او دنده مو پریښوده نو ستاسو د ټولنې پلیت او ظالم کسان به په تاسو واکمن شي او بیا چې هغوي ته هر څومره هم ښیرې وکړئ خداي یې نۀ قبلوي.

د حضرت امام علی علیه السلام په اثارو کښې د هغوي یو مشهور اثر نهج البلاغه دی چې په دې کتاب کښې د حضرت امام علی علیه السلام قابو **239** خطبې را نقل شوي دي. د خطبو نه علاوه پکښې دعاګانې، وصیتونه، لیکونه او د امام علی علیه السلام ارزښتناکې او له نصیحته ډکې ورې ورې جملې هم شته، دا کتاب یو بزرګوار او شریف سید رضی چې یو ادیب، شاعر او عالم سړی ؤ قابو زر کاله مخکښې راغونډ کړی دی.(او د پښتو ژبې مشهور شاعر حمزه بابا په اول ځل په پښتو کې ترجمه کړی دی).

مسعودي چې له سید رضی قابو سل کاله مخکښې اوسیدۀ د "مروج الذهب" کتاب په دویم ټوک کښې وائي:

هغه خطبې چې خلقو په بیلا بیلو موقعو کښې د حضرت امام علی علیه السلام له خلې غونډې کړي تر څلور سوه اتیا خطبو زیاتې دي. حضرت امام علی علیه السلام دغه خطبې فی البدیهه او بې له څه یادښته او ځان ته لیکلو ویلي دي او خلقو به ترې هم لیکلې نو له دې معلومیږي چې د حضرت امام علی علیه السلام خطبې ډیرې زیاتې دي حال دا چې سید رضی بزرګوار په نهج البلاغه کښې یوازې **239** خطبې راغونډې کړي دي.(سیري در نهج البلاغه ایت **1** استاد مطهري).

د نهج البلاغه په حقله خبرې او معلومات ځان ته یو کتاب غواړي خو زۀ په دې لنډې غوندې پیژندګلو اکتفا کوم او که څوک غواړي چې نور معلومات تر لاسه کړي نو پخپله نهج البلاغې او د هغې بیلا بیلو شرحو او څیړنو ته چې لویو لویو عالمانو لیکلي دي مراجعه کولی شي. پرنهج البلاغې سربیره د امام علی علیه السلام قضاوتونه او فیصلې هم ډیرې خوندورې او حیرانوونکې دي او که څوک یې شوق لري نو دا هم د بیلا بیلو کتابونو په شکل کښې چاپ شوي دي.